# د جګړې د مرګ‌ژوبلې اوونیز راپور

۹مه ګڼه

(۴– ۱۱ جولای ۲۰۱۹م)

(۱۳– ۲۰ سرطان ۱۳۹۸ هـ ش)



قاصد د ستراتیژیکو څیړنو مرکز په افغانستان کې د جګړو او امنیتي پېښو له کبله ښکېلو لورو او ملکي خلکو ته اوښتې مرګ‌ژوبله په دقیق ډول څاري او دغه اوونیز راپور ترې چمتو کوي. په دغو راپورونو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګ‌ژوبلې شمېرې د افغان حکومت د سرچینو، د طالبانو د سرچینو، په سیمه کې عیني شاهدانو او نورو بېلابېلو ادارو او باوري سرچینو د معلوماتو له مخې راټولېږي. د دغو راپورونو اساسي موخه د روانې جګړې درنو زیانونو ته د واکمنو چارواکو او مسؤولو لورو پام راړول دي.


www.qased.org

info@qased.org

077 281 58 58

## سریزه

دغه راپور د ۲۰۱۹م کال د جولای له ۴مې تر ۱۱مې (د ۱۳۹۸ لمریز کال د چنگاښ له ۱۳مې تر ۲۰مې) نېټې پورې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د جګړې له کبله د اوښتې مرګژوبلې شمېرې رانغاړي.

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې دغه اوونۍ هم خورا خونړۍ وه او په ځانګړې توګه د ملکي خلکو مرګ ژوبله پکې د تېرې اوونۍ په پرتله لوړه وه. د افغان ځواکونو لپاره تر ټولو خونړۍ پېښه په کندز کې وشوه، چې لږ تر لږه ۲۰ تنه افغان سرتېري پکې ووژل شول. همدا راز د دې اوونۍ بله خونړۍ پېښه په غزني کې وشوه، چې د افغان ځواکونو ترڅنګ پکې ملکي خلکو ته هم درنه مرګ ژوبله واوښته.

دلته په ترتیب سره افغان ځواکونو، د دولت وسله‌والو مخالفینو، ملکي خلکو، او حکومتي کارکوونکو ته د اوښتې مرګژوبلې شمېرې او جزئیات په جلا جلا عنوانونو کې لولئ.

## افغان ځواکونو ته اوښتې مرګژوبله

**د جولای ۴مه:**

د بلخ ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ۱ د ملي اردو سرتېری وژل شوی او ۳ پولیس ټپیان شوي دي.

**د جولای ۵مه:**

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په میوند بازار کې وسله‌والو طالبانو پر یوه امنیتي پوسته برید کړی، چې له امله یې ٦ پولیس وژل شوي او ۴ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت په پشتون زرغون ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو په یوه پوځي مرکز برید کړی، چې له امله یې ۹ سرتېري وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د وسله‌والو طالبانو په برید کې د فراه ښار د یوې امنیتي پوستې ۴ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د بادغیس ولایت په جوند ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ٦ سرتېري وژل شوي او ۴ پولیس ټپي شوی دی.

د پکتیا ولایت په وازه‌خوا ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو په یوه سرحدي پوسته برید کړي چې له امله یې ۱۲ سرتېري وژل شوي چې یو پکې ملي پولیس او نور سرحدي پولیس دي.

د جلال آباد ښار په بهسودو ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د یوه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې امله د اتمې امنیتي حوزې ۲ د ملي امنیت منسوبین وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د هرات ولایت په غوریان ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په برید کې ٦ د عامه محافظت پولیس وژل شوي دي.

د بغلان ولایت مرکز پلخمري کې وسله‌والو طالبانو په یوه امنیتي پوسته برید کړی، چې له مله یې ۴ پولیس وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د فراه ولایت په مرکز کې د طالبانو د برید له کبله ۴ پولیس وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ٦مه:**

د سرپل ولایت د سانچارک ولسوالۍ په آب کلان سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د برید له امله ۱ محلي پولیس وژل شوی او ۱ ټپي شوی دی.

د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۹ تنه سیمه‌ییز پولیس وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

د کندهار ولایت د خاک‌ریز ولسوالۍ په شېرغه سیمه کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۲ پولیس وژل شوي او ۲ ټپیان شوي دي.

همدا راز د کندهار ولایت په معروف ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۱۰ پولیس وژل شوي او تر ۲۰ زیات نور ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت په پښتونکوټ ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو د افغان کماندو ځواکونو په موټر د راکټ برید کړی، چې له امله یې ۲ د افغان کماندو ځواکونو غړي وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د کابل ولایت د پولیسو پنځمې حوزې اړوند سیمه کې د کورنیو چارو وزارت دوه کارکوونکي چې د ښارنوالۍ برخه کې یې دندې لرلې، د نامعلومو وسله‌والو له لوري ۱ وژل شوی او ۱ بل یې ټپي شوی دی.

د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۲ دولت پلوي سرتېري وژل شوي دي.

**د جولای ۷مه:**

د غزني ولایت په شامیر صاحب سیمه کې د ملي امنیت په شپږمه حوزه د موټر بم د چاودنې له امله د ملي امنیت ۸ غړي وژل شوي دي.

د بغلان ولایت په بغلان مرکزي ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۱ پولیس وژل شوی او ۳ نور ټپیان شوي دي.

د بلخ ولایت په چارکینټ ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۱ سیمه‌ییز پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د بادغیس ولایت په مرکز کې د طالبانو د برید له کبله د کورنیو چارو وزارت د عامه محافظت ځواکونو ۱ غړی وژل شوی دی.

د لوګر ولایت په مرکز پل علم ښار کې طالبانو د پولیسو د یوه قوماندان په ګډون ۳ پولیس وژلي دي.

د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۱ پولیس وژل شوی او ۲ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۸مه:**

د دایکندي ولایت په کجران ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې له امله ۲ ملي پولیس وژل شوي او ۵ محلي پولیس ټپیان شوي دي.

د غزني ولایت په اندړو ولسوالۍ کې ۲ پولیس د ګزمې پر مهال وژل شوي دي.

د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د طالبانو یوه نفوذي کس ۱ پولیس وژلی او ۴ نور یې ټپیان کړي دي.

د بغلان ولایت د پلخمري ښار په دویمه امنیتي حوزه کې د طالبانو د برید پر مهال ۳ پولیس وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د سرپل ولایت په سانچارک ولسوالۍ کې د پولیس پر یوه پوسته د طالبانو په برید کې ۲ سیمه‌ییز پولیس وژل شوي دي.

**د جولای ۹مه:**

د افغان ځواکونو د چاپېزو عملیاتو پرمهال د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ په پل پده سیمه کې ۳ امنیتي منسوبین وژل شوي دي.

د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په بریدونو کې ۲۰ تنه سرحدي او ملي پولیس وژل شوي او ۱۵ نور ټپیان شوي دي.

د غور ولایت په تولک ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو په یوه پوځي مرکز برید کړی، چې له امله ۴ سرتېري وژل شوي او ۲ پولیس ټپیان شوي دي.

د زابل ولایت په شاجوی ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو پر پوځي مرکزونو بریدونه کړي، چې له امله ۱۳ پولیس وژل شوي او ۷ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت په خاکرېز ولسوالۍ کې په یوه بمي برید کې ۱ پولیس وژل شوی دی.

د بلخ ولایت په دولت آباد ولسوالۍ کې د طالبانو د برید له کبله ۱ پولیس وژل شوی او ۱ بل ټپي شوی دی.

د جوزجان ولایت په فیض آباد ولسوالۍ کې د طالبانو په برید کې ۲ پولیس وژل شوي او ۳ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای۱۰مه:**

د سمنگان ولایت په دره صوف ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو په کمین کې ۱ سیمه‌ییز پولیس وژل شوی دی.

د بدخشان ولایت په ارگو ولسوالۍ وسله‌والو طالبانو په یوه پوسته برید کړی، چې له امله یې ۲ پولیس وژل شوي او ۳ ټپیان شوي دي.

**د جولای ۱۱مه:**

د هلمند ولایت په مارجه ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله ٦ سرحدي پولیس وژل شوي دي.

د زابل ولایت په شهر صفا ولسوالۍ د سړک پرغاړه د ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې له امله په موټر سایکل دوه سپاره پولیس ۱ یې وژل شوی او ۱ بل ټپي شوی دی.

**جدول ۱: افغان ځواکونو ته اوښتي مرگ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| **ملي اردو** | ۳ | ۳ | ٦ |
| **پولیس** | ۱۵۷ | ۱۱٦ | ۲۷۳ |
| **مجموعه** | **۱٦۰** | **۱۱۹** | **۲۷۹** |

## د دولت د وسله‌والو مخالفینو مرگ‌ژوبله

**د جولای ۴مه:**

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ په موشکي سیمه کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پرمهال ۱۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۵ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۵مه:**

په فراه ولایت کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۲ نور ټپیان شوي دي.

د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ په میوند بازار کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۱۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۲ نور ټپیان شوي دي.

د بغلان ولایت گذرگاه‌نور ولسوالۍ د نیولو لپاره د وسله‌والو طالبانو د برید پر مهال ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي او تر ۱۰ زیات نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ٦مه:**

د کندهار ولایت د خاک‌ریز ولسوالۍ په شېرغه سیمه کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۸ نور ټپیان شوي دي

د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې د وسله‌والې نښتې پر مهال ۱۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۱۵ نور ټیان شوي دي.

د افغان ځواکونو په هوايي بریدونو کې د غزني ولایت په جغتو، خواجه عمري او واغظ ولسوالیو کې ۳ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې د یوې وسله‌والې نښتې پر مهال ۵ تنه طالب جنگیالي وژل شوي دي.

**د جولای ۸مه:**

د دایکندي ولایت په کجران ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې له امله ۲۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د لوګر ولایت مرکز پل علم، برکي برک او خوشي سیمه کې د افغان ځواګونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې له امله ۴۸ وسله‌وال وژل شوي او ۱۰ نور ټپیان شوي دي.

د هلمند ولایت په نادعلي ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د ځانګړو عملیاتو پرمهال ۱۰ وسله‌وال وژل شوي او ۱ ټپی شوی دی.

د سرپل ولایت په سانچارک ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو او وسله‌والو طالبانو د نښتې پر مهال ۴ طالب جنګیالي وژل شوي دي.

**د جولای ۹مه:**

د فاریاب ولایت په غورماچ ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۱۸ وسله‌وال وژل شوي دي.

د کندز ولایت په امام صاحب ولسوالۍ کې د وسله‌والو طالبانو او افغان ځواکونو د وسله‌والې نښتې له امله ۱۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

د افغان ځواکونو د ځانګړو عملیاتو له امله د هرات ولایت د پشتون زرغون ولسوالۍ په پل پده سیمه کې ۱۰ وسله‌وال طالبان وژل شوي  او ۱۵ نور ټپیان شوي دي.

د غور ولایت په تولک ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو په یوه پوځي مرکز برید کړی، چې له امله یې ۱۵ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**د جولای۱۰مه:**

د افغان ځواکونو د ځانګړو عملیاتو له امله د بغلان ولایت په تاله‌وبرفک ولسوالۍ کې ٦ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۹ نور یې ټپیان شوي دي.

د فاریاب ولایت په پلچراغ ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د ځانګړو عملیاتو له امله ۴ وسله‌وال طالبان وژل شوي او ۹ ټپیان شوي دي.

**د جولای ۱۱مه:**

د هرات ولایت په پشتون زرغون ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د هوايي او ځمکنیو عملیاتو پرمهال ۷ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي. په همدې ورځ د هرات ولایت په اوبه ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د هوايي برید له امله ۲ وسله‌وال طالبان وژل شوي دي.

**جدول : د دولت وسله‌والو مخالفینو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
| --- | --- | --- | --- |
| **طالبان** | ۲۲۳ | ۹٦ | ۳۱۹ |
| **مجموعه** | **۲۲۳** | **۹٦** | **۳۱۹** |

## ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله

**د جولای ۴مه:**

د غور ولایت په دولتیار ولسوالۍ کې وسله‌والو طالبانو په برید کې ۱ ملکي وګړی وژل شوی او ۱ ټپي شوی دی.

د بغلان ولایت په پلخمري ښار کې د هوايي برید له امله ۲ ملکي وګړي وژل شوي او ۳ ټپیان شوي دي چې وژل شوي قربانیان ښځې، او ټپیان بیا ماشومان دي.

**د جولای ۵مه:**

د فاریاب ولایت د خواجه سبزپوش ولسوالۍ په بازار کې د طالبانو له لوري فیر شوې هاوان مرمۍ د لګېدو له کبله ۱۴ ملکي وګړي وژل شوي او د ماشومانو په ګډون ۳۰ نور ټپیان شوي دي.

د غزني ښار د خاک غریبان سیمې په محمدیه جومات کې د بم د چاودنې له امله ۲ ملکي وګړي وژل شوي دي او ۲۰ نور ټپیان شوي دي.

د جلال آباد ښار په بهسودو ولسوالۍ کې د سړک پر غاړه د یوه ځای پر ځای شوي ماین د چاودنې امله ۴ ملکي وګړي وژل شوي دي.

د کندز ولایت په مرکز کې یو شیعه عالم په یوه وسله‌وال برید کې وژل شوی دی.

**د جولای ٦مه:**

د غور ولایت په مرکز فېروزکوه کې یو ډاکټر د نامعلومو وسله‌والو په برید کې وژل شوی دی.

**د جولای ۷مه:**

د غزني ولایت په شامیر صاحب سیمه کې د ملي امنیت په شپږمه حوزه د موټر بم د چاودنې له امله د یوه ماشوم په ګډون ٦ ملکي وګړي وژل شوي او د ٦٠ ماشومانو په ګډون ۱۸۰ نور ټپیان شوي دي.

**د جولای ۸مه:**

په جلال آباد ښار کې د یوه بم د چاودنې له امله ۴ ملکي وګړي ټپیان شوي دي.

**د جولای ۹مه:**

د میدان وردګو ولایت په دایمیردادو ولسوالۍ کې د افغان ځواکونو د هوایي برید له کبله د یوه روغتیایي کلنیک ۴ کارکوونکي وژل شوي دي.

د هلمند ولایت د مرکز لښکرګاه کې په یوه روغتیایي مرکز کې د چاودنې له امله ۱ ډاکټر او ۲ نور ملکیان وژل شوي دي.

د بغلان ولایت مرکز پلخمري په کتب خېلو سیمه کې د هوایي برید له امله د یوې کورنۍ ۷ غړي وژل شوي دي.

**د جولای ۱۰مه:**

د ننګرهار ولایت په مرکز جلال آباد ښار کې د نامعلومو وسله‌والو په برید کې د ولایتي محکمې ۲ قاضیان وژل شوي دي.

د غور ولایت په مرکز فېروزکوه کې د سړک غاړې ماین چاودنې له کبله ۳ ملکي وګړي، چې یوه ښځه او دوه سړي وو، وژل شوي دي.

**د جولای ۱۱مه:**

د سرپل ولایت په کورک مغل سیمه کې د وسله‌والو طالبانو د راکټي برید له امله ۳ ملکي وګړي وژل شوي دي.

**جدول ۳: ملکي وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

| نوم | وژل شوي | ټپیان | ټول وژل شوي او ټپیان |
|---|---|---|---|
| ملکي وګړي | ۵۷ | ۲۳۴ | ۲۹۱ |
| مجموعه | **۵۷** | **۲۳۴** | **۲۹۱** |

## پایله

د تېرې اوونۍ راپور ښيي، چې د روان لمريز ۱۳۹۸ کال د چنګاښ له ۱۳مې تر ۲۰مې (د جولای له ۵مې تر ۱۱مې) نېټې پورې د ټول هېواد په کچه ۸۸۹ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده. د یادولو وړ ده، چې دا اوونۍ هم د تېرې اوونۍ په څېر د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو لپاره خونړۍ اوونۍ وه (جدول-۴).

په دې اوونۍ کې د افغان ځواکونو د مرګ ژوبلې کچه د تېرې اوونۍ په پرتله کمه شوې؛ خو د دولت د وسله‌والو مخالفینو او ملکي خلکو مرګ ژوبله بیا زیاته شوې ده. په تېره اوونۍ کې ۲۹۳ افغان سرتېري وژل شوي وو، چې په دې اوونۍ کې د پام وړ کموالي ښودنه کوي. د وسله‌والو طالبانو د وژل شوو شمېره بیا تېره اوونۍ ۱۹۵ تنه وه، چې په دې اوونۍ کې د لږ زیاتوالي ښودنه کوي. خو په تېره اوونۍ کې بیا د ملکي وګړو د وژل شوو کچه ۳۲ تنه وه، چې په دې اوونۍ کې نژدې دوه چنده شوې او ۵۷ تنه وژل شوي دي.

ملکي خلکو ته یو ځل بیا هم د افغان او بهرنیو ځواکونو د هوايي بریدونو او شپنیو عملیاتو له کبله مرګ ژوبله اوښتې وه، چې له تېرو څو میاشتو راهیسې په بار بار دا ډول پېښنو کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اوړي؛ خو افغان حکومت یې په اړه کوم پام وړ ګام نه دی پورته کړی. همدا راز د وسله‌والو طالبانو له لوري په شوو چاودنو کې هم زیات شمېر ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې ده، چې ډېر یې هم ټپیان وو.

**جدول ۴: د جګړې د ښکېلو لورو او ملکي خلکو مجموعي مرګژوبله**

| تپیـــــــان | نوم | وژل شـــوي | نوم |
|---|---|---|---|
| ۱۱۹ | افغان ځواکونه | ۱٦۰ | افغان ځواکونه |
| ۹٦ | د دولت وسلهوال مخالفین | ۲۲۳ | د دولت وسلهوال مخالفین |
| ۲۳۴ | ملکي وګړي | ۵۷ | ملکي وګړي |
| **۴۴۹** | **مجموعه** | **۴۴۰** | **مجموعه** |
| **۸۸۹** | **ټول وژل شوي او ټپیان** | | |

پای

www.qased.org info@qased.org 077 281 58 58